سلطان جان کلیوا ل

۲۰۲۱/۱۱/۲٦

# ضرورت

ســتړی کړی دی حالت یم ، یو بدلون ته ضرورت دی
شوه د عشق کیسه بی خونده، بل مضمون ته ضرورت دی
خصــلتــونه بدل شــوی، مشــران ژاړي هــديرو کـــی
چی خرڅ نه شي په پردیو، دي پښتون ته ضرورت دی
په خنــدا خنــدا چی دارتــه ، وي روان د حــق د پاره
د منصور غوندی بل مست ته، بل مجنون ته ضرورت دی
چی کړي لاري سيده کړي، د پيړيو کوږ کاروان ته
يو لارښود ته ضرورت دی، يو سمون ته ضرورت دی
د آدم «ع» له زماني نه، د نیکی او بدی جنګ دی
چی کړي بيلي دا لښکرې ، يو بيلتون ته ضرورت دی
یا چی دا دښمني دلي، سره کيږدی حق ته غاړه
يو **ښوونځی** ته ضرورت دی، **پوهنتون** ته ضرورت دی
کلیوال چی انسان جوړشي او شي بیل له ځناورو
یو **(قلم)** ته ضرورت دی، **(کتابتون)** ته ضرورت دی



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com